سمسور ودان ٢٠٢٣/٠١/٢٠

# ستر احسان

په سرو سترګو يې راوکتل: نور يې هيڅ زغملی نشم.

کالي يې ورتېول کړل او سر يې ښکته کړ: هره ورځ، هر ساعت بلکې هره شيبه دې احسان راباندې کړی، بس دا وروستی ستر احسان هم راباندې وکړه!

په حَير، حَير مې وروکتل: هره شيبه احسان، ته د څه شي او کوم احسان خبره کوې؟

ـ دا چې هره شپه مې په خپلې بې رخي او نه پاملرني لمحه، لمحه وژنې، ښه نه ده چې دا کيسه نن ختمه کړې او په يو ځل مې ووژنې.

له ځان سره شرمنده شوم، لاسونه مې ترې تاو کړل: لېونۍ زما د دريو ورځو، يا يوې اونۍ خپګان دا معنا نلري، چې ته مې له فکر او خپاله وتلې يې. ته خو اوس زما په رګونو کې ګرځېدونکې وينه يې، بې له تا نو کله ژوند کولی شم.

ـ لاسونه يې غاړې ته را اوړده کړل: نو بيا دا دومره ډېره بې رخي څه شي وه؟

ـ دا هم زما مينه ده. زه چې له تا خپه کېږم، نو ته مې بايد رضا کړې او ته چې خپه کېږې، زه به دې راضي کومه.

وېې موسل او ښکل يې کړم.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ